# د ځنګل د اور لګېدنې پېښې



د اقلیم بدلون په شمالي امریکا کې په ځنګلونو کې د زیاتې وچکالۍ، شدیدې تودوخې او آفتونو د زیان لامل کېږي، چې د لا زیات سختو ځنګلي اور لګېدنو لامل کېږي. په ځنګل کې د اورلګېدنې له امله رامنځته شوی دود کولای شي حتی تر زرګونو مایلو پورې لرې په میساچوسټ ایالت کې د هوا د ټیټ کیفیت لامل شي.

د هوا دا خراب کیفیت کولای شي حساسیتونه نور هم خراب کړي او د تنفسي انتاناتو لامل شي، په ځانګړې توګه د هغو کسانو لپاره چې د زړه ناروغۍ، ساه لنډي او د سږو نورې ناروغۍ لري.

**څوک په لوړه کچه له خطر سره مخ دي؟**

کیدای شي ځینې خلک د ځنګلي اور د دود په پېښه کې د دوی د ژوند د ځای، رسمی حکومتي معلوماتو ته د لاسرسي، د چمتووالي او ځواب ویلو لپاره د سرچینو د شتون او د له وړاندې روغتیایي ستونزو له امله له زیات خطر سره مخ وي. په دې کې لاندې کسان شامل دي:

- تر 5 کلونو کم عمر لرونکي ماشومان او له 65 کلونو لوړ عمر لرونکي لویان
- میندواره میرمنې
- تور پوستي  خلک د سیستماتیکې نژاد پالنې له امله
- هغه خلک چې لږ یا هیڅ په انګلیسي خبرې نه کوي کیدای شي دوی په خپله مورنۍ ژبه باندې د بیړنیو حالتونو پیغامونه ترلاسه نه کړي
- معلولیت لرونکي کسان
- هغه کسان چې له وړاندې طبي مشکلات لري لکه د زړه ناروغي، ساه لنډي، د سږو ناروغۍ او تنفسي حساسیتونه
- هغه خلک چې بهر کار یا تمرین کوي

**د هغې پر وړاندې موږ څه کولای شو؟**

- د ځنګلي اورلګېدنې د پېښو پر مهال له خپل ډاکټر سره د ساه لنډۍ د درملو د کارولو په اړه خبرې وکړئ
- په خپله ټولنه کې د محلي هوا کیفیت معلوماتو او د هوا کیفیت خبرتیاو په اړه تازه اوسئ
- په ځنګل کې د اور لګېدنې د دود د پېښو پر مهال پلان جوړ کړئ چې بهر ترسره کېدونکي فعالیتونه کور ته انتقال کړئ
- په ځنګل کې د اور لګېدنې د دود د پېښو پر مهال په کور او نقلیه وسایطو کې کړکۍ بندې کړئ
- د یخولو او ګرمولو په سیستمونو کې د هوا د لوړ اغېز لرونکو (HEPA) فلترونو څخه کار واخلئ
- په خپل کور کې د بکس پکې په کارولو سره د پاکې هوا خونې جوړولو څرنګوالي زده کړئ
- د N95 ماسکونو یوه ذخیره ولرئ، د هغو د کارولو څرنګوالی زده کړئ او خپل ماشوم ته د کوچنیو N95 یا جراحي ماسکونو اغوستل تمرین کړئ.

Bureau of Climate and Environmental Health
Environmental Toxicology Program
Massachusetts Department of Public Health

نور معلومات په دې پته کې ترلاسه کړئ:
mass.gov/ClimateAndHealth